د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**گڼه: 496**

(28 - 30 میزان 1404 هـ ش)

## هند ته د اميرخان متقي سفر او د پالیسیو بدلون

---



دا نشریه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- هند ته د امیرخان متقي سفر او د پالیسیو بدلون ........................................ 3
- د هند او افغانستان تاریخي اړیکې ........................................ 4
- د اسلامي امارت په اړه د هند د پالیسی بدلون ........................................ 4
- پایله ........................................ 6
- وړاندیزونه ........................................ 7
- مأخذونه ........................................ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## هند ته د امیرخان متقي سفر او د پالیسیو بدلون

### سریزه

هند او افغانستان له یو او بل سره ګډه پوله نه لري، خو د دواړو هېوادونو ترمنځ تاریخي اړیکه شتون لري چې په فرهنګي، سوداګریزو او ډیپلوماتیکو بنسټونو ولاړې ده، د تاریخ په اوږدو کې پاکستان تل دغو اړیکو ته د شک په نظر کتلي او د بهرنۍ پالیسۍ یوه برخه یې دا ده چې په افغانستان کې د هند د نفوذ مخه ونیسي. که په عمومي ډول د هند او افغانستان اړیکو ته وګورو، نو د سړې جګړې پرمهال په افغانستان کې د شوروي پلوه حکومتونو د شتون له امله دغه اړیکې یو څه ښې وې او لامل یې د شوروي اتحاد او هند نږدې اړیکې وې، خو کله چې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماتې وخوړه او د ډاکټر نجیب حکومت ړنګ شو، نو له هغې وروسته د تېر شل کلن جمهوریت تر رامنځته کېدو پورې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې نه وې، خو د جمهوریت په شل کلنه دوره کې بیا د هند او افغانستان اړیکې سره نږدې شوې.

د دغو اړیکو په اړه هندی لیکوال سیري پتي نارایئن وایي: «د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته له ۱۹۴۷ ز.کال څخه تر ۱۹۹۲ ز.کال پورې په افغانستان کې د پاکستان په پرتله د هند نفوذ ډېر و. د همدې نفوذ د له منځه وړلو او د افغانستان په مسایلو کې د خپل رول د پراختیا په موخه پاکستان د یوې لارې په لټه کې و، چې بالاخره یې د طالبانو په شکل کې دغه لاره پیدا کړه. د مجاهدینو خپلمنځي اختلافات د دې لامل شول چې پاکستان په افغانستان کې د طالبانو اسلامي امارت ته زمینه برابره کړي. هماغه وو چې د طالبانو اسلامي امارت په راتګ سره هند هم له افغانستان څخه پښې سپکې کړې او هر ډول اړیکې یې له افغانستان سره ختمې کړې او طالبان یې د یوې تروریستې ډلې په حېث اعلان کړل[1].

د اسلامي امارت او هند اړیکې له ستر ځنډ وروسته هغه مهال ببرته ټینګې شوې کله چې د طالبانو او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د دوحې تړون لاسلیک شو او اسلامي امارت په چټکۍ سره د افغانستان په بېلابېلو سیمو تسلط ترلاسه کاوه د طالبانو له دې چټک پرمختګ څخه هند ته وېره پیدا شوه او له طالبانو سره یې په نارسمي ډول د خبرو او ناستې پرېکړه وکړه. هند په دې فکر و چې که طالبان په ټول افغانستان واکمنېږي، نو په افغانستان کې له هند سره باید د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره یو الټرنېټ (بدیل) موجود وي.

کله چې طالبان په ټول افغانستان واکمن شول، نو هند په لومړیو کې له ډېر احتیاط څخه کار واخیست او وروسته یې د بشري مرستو ډیپلوماسي ته مخه کړه او په دې توګه یې له اسلامي امارت سره څه نا څه تعامل پیل کړ، وروسته یې په کابل کې خپل سفارت د تخنیکي ټیم او د بشري مرستو د تنظیم په نوم پرانېستی پرېښود او کله چې د تېرې پنجشنبې پر ورځ د روان ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر نهمه نېټه د

اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي هند ته په سفر لاړ[2]، نو هند اعلان وکړ چې دوی به په کابل کې خپل سفارت د هر ډول ډيپلوماتيکو اړيکو لپاره پرانيزي[3] چې دا د دوه اړخيزو اړيکو نوی پړاو دی چې پر همدې موضوع زموږ دا تحليل راڅرخيږي.

## د هند او افغانستان تاريخي اړيکې

له تاريخي اړخه هند له بريتانيا څخه له خپلواکۍ اخيستلو وروسته په لومړي ځل په ۱۹۵۰ز. کال کې له افغانستان سره د سياسي اړيکو د ټينګولو په موخه له دغه هېواد سره د «ملګرتيا تړون» لاسليک کړ. پر افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل پرمهال هند د شوروي اتحاد ملاتړ وکړ او د افغان مجاهدينو پرخلاف يې د شوروي اړخ ونيوه.

له ۱۹۹٦ز.کال څخه تر ۲۰۰۱ز.کال پورې، چې په افغانستان کې د طالبانو واکمني وه، هند خپلې هر ډول ډيپلوماتيکي اړيکې او ملاتړ له افغانستان سره په دې دليل پرې کړې چې طالبان يې په پاکستان کې روزل شوې ډله ګڼله او په دې عقيده وو چې پاکستان غواړي په کشمير کې د جنګېدونکو ډلو لپاره په افغانستان کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې پټنځايونه برابر کړي. له همدې کبله يې په دې دوره کې له شمال ټلوالې سره همکاري کوله.

کله چې په ۲۰۰۱ز.کال کې د طالبانو واکمني ړنګه شوه هند بېرته په عاجل ډول له افغانستان سره اړيکې ټينګې کړې؛ لومړی يې په کابل کې خپل سفارت پرانيست او ورپسې يې په مزارشريف، جلال اباد، هرات او کندهار کې کونسلګرۍ پرانېستې او له افغانستان سره يې ډيپلوماتيکي اړيکې يو ځل بيا ټينګې کړې[4]. همدارنګه په ۲۰۱۱ز. کال کې هم هند او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ترمنځ «د ستراتيژيک شراکت هوکړه‌ليک» لاسليک شو چې له لارې به يې دواړه هېوادونه په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، تعليمي او نورو بېلابېلو برخو کې له يو او بل سره همکاري کوي.[5]

## د اسلامي امارت په اړه د هند د پاليسۍ بدلون

د ۲۰۲۰ز. کال په سپتمبر په مياشت کې د هند د بهرنيو چارو وزير جی شنکر د لومړي ځل لپاره په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ ترسره کېدونکې غونډه کې د ويډيو لينک له لارې برخه واخيسته.[6] دا چاره د دې ښکارندويه وه، چې له طالبانو سره خبرې او تعامل د هند د ملي ګټو غوښتنه ده. هند ته د امير خان متقي له سفر مخکې دغه هېواد د اسلامي امارت په اړه د څار او انتظار پاليسي (Watch and Wait Policy) غوره کړې وه. د هند دې پاليسۍ ته ستراتيژيک صبر هم ويل کېږي، يعنې هند د اسلامي امارت پاليسي مطالعه کوله او له ډاډ وروسته يې ورسره د رسمي اړيکو په اړه

تصمیم نیوه او تر هغې چې د اسلامي امارت د پالیسیو او کړنو په اړه ډاډ ترلاسه کېږي تر هغې یې د اسلامي امارت په اړه دوه ډوله ډیپلوماسي پرمخ وړله:

۱- د بشري مرستو ډیپلوماسي: هند په ۲۰۲۱ز. کال کې له افغان ولس سره د ۵۰ زره میټریک ټنه غنمو، د همدغه کال په ډسمبر میاشت کې یې د اندراګاندي ماشومانو روغتون سره نږدې ۱،٦ ټنه درملو، د کرونا د مخنیوي په موخه یې پنځه میلیونه ډوزه د کرونا واکسینو او د پکتیکا زلزله ځپلو سره یې ۲۷ ټنه بېړنۍ مرسته وکړه، چې خیمې او کمپلې په کې شاملې وې. همدارنګه ویلای شو چې د اسلامي امارت پر وړاندې د هند د بشري مرستو ډیپلوماسي اغېزناکه ثابته شوې او دې کار اسلامي امارت دې ته مایل کړی ترڅو له هند سره د دوه اړخیزو اړیکو په جوړولو کار وکړي. د ۲۰۲۲ز. کال په نیمایي کې هند په کابل کې خپل سفارت ته یو تخنیکي ټیم په دې موخه ولېږه چې د هند بشري مرستې له اسلامي امارت سره تنظیم کړي، خو دا تخنیکي ټیم ځینې وختونه د اسلامي امارت له مشرانو سره هم ګوري او دې کار د دواړه هېوادونو پر اړیکو مثبت اغېز کړی دی.

۲- سیمه ییزه او څو اړخیزه ډیپلوماسي: د اسلامي امارت پر وړاندې د هند بله نااعلان شوې پالیسي سیمه‌ییزه او څو اړخیزه ډیپلوماسي ده، په دې معنی چې هند په یوازې ځان نه، بلکې غواړي د سیمې له هېوادونو سره په ګډه د اسلامي امارت سره تعامل ته ننوځي او یا هم دا چې په ګډه د اسلامي امارت په اړه خپل دریځ روښانه کړي. په دې اړه هند د اسلامي امارت په اړه په بېلابېلو سیمه‌ییزو غونډو کې هم ګډون کړی او خپل ګډ دریځ یې روښانه کړی دی. هند د ۲۰۲۱ز. کال د نومبر پر لسمه او یوولسمه د لومړي ځل لپاره د دریم سیمه‌ییز امنیتي ډیالوګ کوربتوب وکړ چې په‌کې له پاکستان او چین پرته د سیمې او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لکه روسیې، قزاقستان، قرغیزستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ایران د ملي امنیت سلاکارانو ګډون وکړ، هند د دې غونډې په مشرۍ سره خپل دریځ روښانه کړ او له نورو سیمه‌ییزو هېوادونو سره یې په ګډه اعلامیه خپره کړه. هند او د سیمې هېوادونو په دې اعلامیه کې په افغانستان کې د داسې ټولشموله نظام چې د افغاني ټولنې د ټولو اړخونو استازیتوب وکړي، په افغانستان کې د بشر حقوقو ته درناوی،له افغانستان څخه د تروریزم د ګواښ مخنیوی او دا چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پرخلاف نه کارېږي، ټینګار وکړ. دغه راز هند د روسیې په کوربتوب د افغانستان په تړاو په پنځمه څو اړخیزه امنیتي غونډه چې د ۲۰۲۳ز. کال په فبروري میاشت کې په مسکو کې وشوه، ګډون وکړ. په دې غونډه کې د هند استازي وویل: هند د خوندي، باثباته او سوله‌ییز افغانستان غوښتونکی دی او د سیمې هېوادونه باید له افغانستان او سیمې څخه د راپورته کېدونکو تروریستي ډلو لکه داعش، القاعده او نورو پر وړاندې امنیتي او استخباراتي همکاري رامنځته کړي.[7] همدرانګه هند د شانګهای سازمان غونډو کې هم د افغانستان په اړه څرګندونې کړې او هڅه یې کړې چې د سیمې له هېوادونو سره په ګډه د افغانستان په اړه ګډ دریځ غوره کړي.

وروسته له هغې چې امیرخان متقي د تېرې پنچشنبې پر ورځ د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر ۹مه نېټه هند ته سفر وکړ او هلته یې له نږدې هندي چارواکو او بهرنیو چارو وزیر سره ولیدل، نو د هند د ځار او انتظار پالیسي پای ته ورسېده او دغه پالیسۍ کې لاندې ستر بدلونونه راغلل:

الف- هند په رسمي ډول په کابل کې د سفارت پرانېستو اعلان وکړ او له دې سره د دواړو هېوادونو اړیکې سفارتي کچې ته لوړې شوې چې له دې معلومېږي چې د هند ځار او انتظار پای ته رسېدلی او د اسلامي امارت له پالیسیو او کړنو ډاډه شوی دی او له همدې امله یې له اسلامي امارت سره په سفارتي کچه تعامل پیل کړ.

ب- هند د اسلامي امارت په اړه له څو اړخیزې ډیپلوماسۍ څخه ګټه اخیسته، یعنې د اسلامي امارت په اړه یې پالیسي دا وه چې په یوازې ځان د اسلامي امارت په اړه تصمیم نه نیسي بلکې د سیمې له هېوادونو سره په ګډه په دې اړه اقدام کوي، خو په دې برخه کې هم بدلون راغی او هند په یوازې ځان د سفارتي اړیکو د پرانېستو پرېکړه وکړه.

ج- همدارنګه هند د اسلامي امارت په مقابل کې یوازې بشري مرستو ډیپلوماسي تراوسه پرمخ وړله، یعنې داسې یې ښوده چې تر هغې چې د اسلامي امارت په اړه ډاډ ترلاسه کوي تر هغې به ورسره یوازې بشري مرستې کوي او په کابل کې به د هند په سفارت کې به یو تخنیکي ټیم د دغو مرستو په توزیع کې همکاري کوي، یعنې د اسلامي امارت او هند اړیکې یوازې په بشري مرستو ولاړې وې، چې په دې برخه کې هم بدلون راغی او هند په کابل کې د سفارت په پرانېستو سره هر ډول سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او بشري اړیکې رامنځته کړې او دغه اړیکې یوازې د بشري مرستو څخه راووتې.

**پایله**

هند تل افغانستان ته د پاکستان له زاویې ګوري؛ کله هم چې په افغانستان کې د پاکستان نفوذ ډېر شوی او اړیکې یې له افغان دولتونو سره نږدې شوې په هماغه کچه هند له صحنې وتلی او اړیکې یې خرابې شوې دي. د بېلګې په ډول: د شوروي اتحاد د یرغل پرمهال کله چې پاکستان له افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه، نو هند له شوروي اتحاد سره ودرېد او کله چې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې پاکستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژندل، هند په هماغه کچه په مکمل ډول اړیکې پرې کړې او بیا په جمهوریت کې کله چې د هند اړیکې له افغانستان سره نږدې شوې له پاکستان سره د افغان دولت اړیکې خرابې وې. په ټوله کې ویلی شو چې افغانستان اکثره وخت په یو ډول د هند او پاکستان د نیابتي جګړې ډګر ګرځېدلی او دواړو لورو هڅه کړې چې په افغان حکومت کې خپل نفوذ ډېر کړي او ان په دغه هېواد کې

د یو بل ګټې په نښه کړي، کوم څه چې له دواړو هېوادونو سره په اړیکو کې د توازن نشتوالي پایله ده او په هېڅ ډول د افغانستان په ګټه هم نه ده.

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته هند ځمکني واقعیتونه درک کړل او له اسلامي امارت سره یې تماسونه او اړیکې ټینګې کړې، خو په لومړیو څلور کالونو کې یې بیا هم د څار او انتظار پالیسي غوره کړه او له رسمي اړیکو ټینګولو څخه یې ډډه وکړه. هند ته د امیرخان متقي له سفر وروسته دغه هېواد په کابل کې خپل سفارت پرانېست او دغه سفر د دواړو هېوادونو د اړیکو د راتلونکي لپاره ډېر مهم دی، هند د افغانستان په بیارغونه کې مهمه ونډه اخیستې ده، په تېر شل کلن جمهوریت کې د افغانستان نږدې متحد او ستراتیژیک ملګری پاتې شوی او د پاکستان په څېر یو ګاونډي هېواد لپاره د هند کارت ډېر مهم دی تر څو اوسنی حکومت یې د فشار په توګه وکاروي او له پاکستان سره په اړیکو کې ملي ګټې خوندي کړي.

د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان اړیکې د ډیورنډ فرضي کرښې، کډوالو او امنیتي موضوعاتو له امله ترینګلې دي او په دې وروستیو کې د پاکستان له لوري پر کابل برید او په ځواب کې د اسلامي امارت له لوري د ډیورنډ پر فرضي کرښه پر پاکستان بریدونو دغه اړیکې له تاریخي پلوه تر ټولو ټیټې کچې ته راښکته کړې دي. په نړیوالو اړیکو کې دا معمول دی چې د دښمن دښمن دوست ګڼل کېږي او که اوسنیو شرایطو ته وګورو، نو افغانستان عملاً له پاکستان سره د دښمنۍ په قطار کې ولاړ دی او دا فکتور د دې لامل کېږي چې اسلامي امارت هند ته نږدې شي. بله مهمه موضوع دا ده چې پاکستان داسې مهال پر کابل برید کوي چې امیرخان متقي په هند کې دی او دا موضوع دا په ډاګه کوي چې هند ته د اسلامي امارت او یا بل هر حکومت نږدېوالی پاکستان ته د منلو وړ نه دی.

## وړاندیزونه

۱ -اسلامي امارت دې په هره ممکنه لاره هند ته دا ډاډ او قناعت ورکړي چې د دوی بهرنی سیاست په بشپړ ډول خپلواک او پر ملي او اسلامي ارزښتونو ولاړ دی او هېڅکله به د پاکستان له کړکۍ هند ته ونه ګوري.

۲ -اسلامي امارت دې په خپل بهرني سیاست کې د هند او پاکستان ترمنځ توازن وساتي، ځکه که اسلامي امارت هند ته نږدې کېږي، نو له پاکستان سره چې افغانستان سره ګډه پوله لري، د اړیکو د خرابېدو لامل کېږي.

۳-د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې د پخوا په څېر ټینګې شي، هند باید له یوې خوا افغان سوداګرو ته د وېزې د ورکړې او د تګ او راتګ اسانتیاوې برابرې کړي او له بلې خوا باید په دولتي کچه سوداګریزې اړیکې پراخې کړي.

۴-په هند کې ډېر افغان محصلین په زده کړو بوخت دي او ډېر نور لیوالتیا لري چې په هند کې زده کړې وکړي، نو د هند حکومت څخه غوښتنه ده چې افغان محصلینو ته په هند کې د زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي او د شته محصلینو لپاره دې د تګ او راتګ او ویزو سهولتونه اسانه کړي.

**مأخذونه**

[1] Sripathi Narayanan, Pakistan & Afghanistan: Understanding Islamabad's Policies and Strategies, Institute of Peace and Conflict Studies (IPCS) Special Report, 2010, P. 2, Access Date: 28/Dec/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09376

[2] News Agencies. "Taliban FM begins first visit by senior Afghan leader to India since 2021", Aljazeera, 9 Oct 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/10/9/taliban-fm-begins-first-visit-by-senior-afghan-leader-to-india-since-2021

[3] AIJAZ HUSSAIN. "India to upgrade Kabul mission to full embassy, signaling deeper ties with Taliban", AP News, October 10, 2025, Access link: https://apnews.com/article/india-afghanistan-taliban-muttaqi-899bac27dee2422e88a54372bdd9efaa

[4] Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting the Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

[5] معصوم جان معصومي، د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته د رسېدو سره د افغانستان پر وړاندې د هند ډيپلوماتیک تعامل، سیمه ییز مطالعات ځانګړې مجله ۱۴۰۱ کال، ۲ مخ.

[6] Sujan R. Chinoy, The Policy of Zero Tolerance Towards Terrorism, DEC 2020, P. 6-26, Dr. Syama Prasad Mookerjee Research Foundation, Access Date: 8/AUG/ 2021, Available at: Indias-Policy-of-Zero-Tolerance-Towards-Terrorism.pdf

[7] معصوم جان معصومي، مخکینی مأخذ، ۹ مخ.

د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)